


**ابوعلي سينا بلخي:** هغه د اسلام د زرين پېر يو ستر طبيب، رياضي پوه، ستورپوه، فزيک او کيميا پوه، جغرافيا پوه، موسيقي پوه، شاعر، منطق پوه، متفکر، حکيم او ليکوال وو. ابو علي سينا د اسلامي پېر تر ټولو اغېزناک فيلسوف بلل کيږي.

نوموړی د نړۍ یو له نوموتو فیلسوفانو او ساینس پوهانو څخه دی چې د فلسفې او طب په برخو کې د خپلو نښیرونو(اثارو ) له امله په ځانګړې توګه د پام وړ دی. هغه د څلورم هجري قمري کال په نیمايي کې پر (۳۷۰) هجري قمري یا (۹۸۰) میلادي کال کې په «آفشنه» کې زېږېدلی، پلار یې عبدالله د بلخ وو. ابن سینا په خپل لاس لیکلي ژوند لیک کې کښلي: « پلار مې عبدالله د بلخ و او په دیواني دنده پسې بخارا ته راغی او دلته یې زما له مور ستارې سره واده وکړ.» ابن سینا هغه مسلمان فیلسوف دی، چې د ارسطو له فلسفې څخه اغیزمن شوی وو. نوموړي په بېلابېلو برخو کې کابو (۴۵۰)کتابونه لیکلي، چې ډېری یې د طب او فلسفې په اړه دي. ابوعلي سینا په ټولو علومو او په ځانګړې توګه طب کې د پام وړ مهارت درلود، له همدې امله هغه د طبي علومو پلار بلل کېده. د هغه تر ټولو له نامتو او مهمو نښیرونو (اثارو)څخه په طب کې د «قانون کتاب» او د شفا(درملنې) کتاب دی، چې د منځنیو پېړیو په پوهنتونونو کې یو معیاري طبي متن شو او د (۱۶۵۰)ز کال تر وروستیو پورې کارول کیدل. د ابن سینا په نښیرونو(اثارو) کې د فلسفې او طب سربیره، د ستورپوهنې، کیمیا، جغرافیه او جیولوژي، ارواپوهنې، اسلامي الهیات، منطق، ریاضي، فزیک او شاعرۍ په تړاو هم ډېرې مهمې لیکنې او ګټور موضوعات او مفاهیم هم شتون لري. په اسلامي فلسفه یې ژور اغېز پرېښی دی.

«ابو علي سینا» پر (۴۲۸)هجري قمري یا (۱۰۳۷)میلادي کال کې مړ شو او د «همدان» په ښار (اوسني ایران) کې خاورو ته وسپارل شو.

**دا هم د ابو علي سینا بلخي ګټورې، اغېزناکې او مهمې ویناوې او خبرې:**

- څوک چې د بدل اخیستو په اندو فکر کې وي، تل یې زخم تازه وي.

- هغه دښمن چې په رښتیا سره کینه کوي، تر هغه دوست ښه دی چې په ریا سره مینه کوي.

- که د یوې تېروتنې  لپاره زر دلیله ووایې، په واقعیت کې دې زر تېروتنې کړې دي.

- بخښنه د ځواک په اکر او حالت کې د زړه ورتیا نښه ده.

- هر څه چې لږ وي، درمل او دوا وي، چې برابر وي، خواړه وي او چې ډېر شي، زهر شي، حتی مینه!

- د ښه ملګري نښه دا ده چې پر نیمګړتیاوو پرده وغوړوي تاته نصیحت وکړي او راز دې وساتي.

- د تجربې او آزماېښت ارزښت له پوهې لوړ دی.

- که پوهېدلی وای چې د مرګ په سزا یو محکوم کس، د مجازاتو پر وخت کې څومره ژوند ته د بیا راستنیدو هیله لري، نو بیا به تاسو د هغو ورځو په قدر او ارزښت پوهېدلی وای چې په غم او خواشینۍ یې تېروئ.

- چې سپورت کوي درمل ته اړتیا نه لري.

- د انسان روغتیا، ته بل هېڅه دومره تاوان نه پېښوي، لکه په ګېډه کې سرپرسر شوي خواړه.

- په پوهه او فلسفه کې تعصب لکه د بل هر تعصب غوندې د خاموالي نښه ده چې تل د ربښتیا په زیان تمامېږي.

- د خپل نفس ښوونکی او استاد او د خپل وجدان زده کوونکی او شاګرد اوسه.

- یو شی چې په زیاته کچه ومونډل شي، بیه یې کمېږي. خو علم چې زیات شي، بیه یې هم زیاتېږي.

- په علم او پوهه کې کینه د بلې هرې کینې په ډول د خامۍ نښه ده، چې تل د حقیقت په زیان تمامېږي.

- ډېرې هیلې او آرزوګانې د انسان ذهن نا آراموي.

- وروسته له ډېرې مودې وپوهېدم، چې په هر څه پوهېدل لازم نه دي!

- بې آزماېښت او بې تجربې ډاکټر د مرګ مرستیال دی!

- آزماېښت او تجربه تر علم لوړه ده.

- تر ټولو نېکمرغه هغه څوک دی چې په عمل کې سخاوت ولري او په خبرو کې ربښتینی وي.

- هغه څه چې پوهه څرګندوي هغه حقیقت دی.

- له ټولنې سره يو رنګ کېدل څومره سخت وي، کله چې ټولنه په خپله زر رنګه وي!

- له داسې ټبر سره مو کار دی، چې اندو فکر کوي خدای تعالی له دوی پرته بل هېچا ته لارښوونه نده کړې.

***

په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود